اوونیزه
# معارف
هفته نامه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۳) ماه شوال ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه حمل ۱۴۰۵ هـ ش.

آموختن سواد مانند چراغ، قلب و مغز انسان را روشن ساخته و از ظلمت جهل نجاتش می‌دهد.

## په ۳۹ بابه منځنیو ښوونځیو کې «د رشته‌بندۍ تطبیق» په اړه سیمینار ترسره شو



پوهنې وزارت په ۳۹ بابه منځنیو ښوونځیو کې «د رشته‌بندۍ تطبیق» تر سرلیک لاندې سیمینار چې د مرکزي او ولایتي ریاستونو ۲۴۰ تنو مسئولینو په کې ګډون کړی وو ترسره کړ.

په دې سیمینار کې د یادو ښوونځیو لپاره د رشتو پر بنسټ د رشته‌بندۍ د پلي کېدو په اړه لازمې لارښوونې وړاندې شوې او د دغه بهیر د اغیزمن پلي کېدو لپاره بحثونه وشول تر څو په ښه توګه همغږي رامنځته شي.

د غونډې په پیل کې د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب‌الله آغا ددې سیمینار جوړېدل په منځنیو ښوونځیو کې د رشته‌بندۍ د تطبیق په برخه کې مثبت ګام وباله.

نوموړي وویل: «الحمدلله، په اوس وخت کې د ملک د تعلیمي نظام د هر اړخیزه پرمختګ لپاره تر ټولو غوره فرصت برابر شوی دی.» هغه له ټولو علماء کرامو، مهتممینو، استاذانو او ښوونکو وغوښتل چې د زده کړې د کیفیت د ښه‌والي، د دیني او عصري علومو د پیاوړتیا او پراختیا او همدارنګه د زده‌کوونکو د تعلیمي او فکري ودې په برخه کې جدي هڅې وکړي.

همدارنګه د غونډې نورو ویناوالو هر یوه د چارو اداري لوی رئیس محترم شیخ نورالحق انور، د لوړو زده کړو وزیر محترم شیخ ندا محمد ندیم، د آزموینو ملي اداري لوی رئیس محترم شیخ عبدالباقي حقاني، د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین محترم شیخ عبدالمالک حقاني ، د مالي او اداري چارو معین محترم الحاج مولوي صبغت‌الله وصیل او د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق ، د ملک د ښوونیز نظام د کیفي پیاوړتیا، د علم ارزښت او د ټولنې د اصلاح او پرمختګ په اړه ارزښتناکې ویناوې وکړې.

همدارنګه د پوهنې وزارت مسئولینو د رشته‌بندۍ د پلان، موخې او ارزښت...

۲مخ

## اخذ امتحان تثبیت سویه تعلیمی از صدها تن مجاهدین و مهاجرین برگشته به ملک در تخار

ریاست معارف ولایت تخار، به‌منظور فراهم‌سازی سهولت‌های آموزشی برای هموطنان این بار نیز از ۴۰۰ تن مجاهدینی که از ادامه تعلیم بازمانده بودند امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ کرد.

به گفته مسئولان معارف در ولایت تخار؛ اشتراک کنندگان امتحان که به‌دلیل مصروفیت های شان در سالهای گذشته در فعالیت‌های جهادی از آموزش بازمانده بودن...

ص۲

## دیدار معین تعلیمات اسلامی با مسئولان وزارت مالیه




نشستی پیرامون ارائه خدمات معیاری تعلیمی، ایجاد سیستم‌ها و استفاده مؤثر از فرصت‌های عایداتی از سوی معین محترم تعلیمات اسلامی، رئیس مالی و حسابداری و شماری از رؤسای این وزارت با رئیس محترم عمومی عواید وزارت مالیه، برخی مسئولان و تیم تخنیکی آن وزارت برگزار شد.

در این نشست محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف ضمن خوش آمد گویی از همکاری‌های همه‌جانبه مسئولان وزارت مالیه با وزارت معارف سپاس گزاری کرد و در مورد اهمیت ایجاد سیستم‌ها صحبت کرده و افزود: که نظام‌ها زمانی می توانند خدمات بهتر به مردم ارائیه کنند که همه ادارات به‌صورت هماهنگ با هم فعالیت و همکاری نمایند. ....

ص۲

## په کندهار ولایت کې د ٦ بابه ښوونځیو نوې ودانۍ پرانیستل شوې



د کندهار ولایت په مرکز او یو شمېر ولسوالیو کې د ۶ بابه ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ چې د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته د ۲ میلیونه او ۳۵۲ زره ډالرو په ټولیز لګښت جوړې شوې وې د یاد ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو له لوري د یوې غونډې په ترڅ کې تر پرانیستو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د کندهار ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې د یادو ښوونځیو ودانۍ په معیاري ډول جوړې شوې دي، چې درسي خونې، اداري دفترونه...

۲مخ

## افتتاح تعمیر جدید یک باب مدرسه دینی در بدخشان

تعمیر مدرسه دینی تعلیم القرآن که در قریه وجن اوشنگان ولسوالی یمگان ولایت بدخشان به حمایت مالی اهالی محل...

ص۲

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست اونیز فعالیتونه

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، د تنویر فکري او کلتوري اداري سره په همغږۍ د صدیقي ښوونیز مرکز زده‌کوونکو ته علمي دعوتي او اصلاحي سیمینار ترسره کړ.

دغه سیمینار د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سلاکار محترم مولوي عبدالحق حماد له لوري وړاندې شو، چې د ګډونوالو له تود هرکلي سره مخ شو.

همدارنګه، د محراب‌الدین عالي امارتي لیسې د ښوونکو ستونزې واورېدل شوې او د حل په موخه یې اړینې سپارښتنې وشوې.

د راپور پر بنسټ، د دعوت او ارشاد ریاست څارنیز ټیم د نوي ښوونیز کال له پیل سره سم د کابل ښار له نوید روښان، اقراء، القلم، عطارد او کارا ښوونیزو مرکزونو څخه هراړخیزه څارنه وکړه او په یاده هره تعلیمي اداره کې یې یو تن مبلغ هم وټاکه.

دیادې څارنې پر مهال د درسي نصاب ارزونه وشوه، د ناسمو انځورونو او نامناسبو جملو د لرې کولو ترڅنګ، زده‌کوونکو ته اصلاحي او ارشادي ویناوې هم وړاندې شوې.

## در این شماره

نوی پیل او د زده کړې بنسټیز ارزښتونه — ۲ مخ
هغه ماشومان چې سم درک شوي ندي، خو ستره وړتیا لري — ۳ مخ
ارزش علم — صفحه ۳

سرلیکنه

# نوی پیل او د زده کړې بنسټیز ارزښتونه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د کال لومړنی ورځې او اوونۍ د طُلاب العلم او زده کوونکو لپاره هغه ارزښتناک وخت دی چې که په سمه توګه یې مدیریت کړي، ددوی لپاره په ټول کال کې اغېزمنه زده کړه تضمینوي.
طُلاب العلم او زده کوونکي چې د ژمي له رخصتۍ وروسته بېرته مدرسو او ښوونځیو ته ستنېږي، له بېلابېلو هیلو او اندېښنو سره مخ وي، نو دوی ته ښايي چې په دې وخت کې د ځان لپاره ځانګړې موخې وټاکي او دغو موخو ته د رسېدو لپاره پوره هڅه وکړي. په مدرسه او ښوونځي کې یوازې د کتاب لوستل بسنه نه کوي بلکې طُلابو او زده کوونکو ته ښايي چې مطالعه خپل ورځنی عادت وګرځوي او هم د بهرنیو ژبو او کمپیوټر په زده کولو سره خپل استعداد ته لا زیاته وده ورکړي او هېڅ کله خپل وخت بې ځایه ضایع نه کړي.
له بلې خوا قدرمن مدرسین او ښوونکي چې د زده کړې د بهیر لارښوونکي دي، د هغوی مسئولیت یوازې د درس ورکولو تر پولې محدود نه دی، بلکې هغوی باید د طُلابو او زده کوونکو د اخلاقو او فکري ودې په برخه کې پوره کوښښ وکړي، طُلاب العلم او زده کوونکي زده کړې ته وهڅوي او داسې چاپېریال رامنځته کړي چې طُلاب او زده کوونکي په مینه سره مدرسې او ښوونځي ته لاړ شي. کله چې محترم مدرسین او ښوونکي له طُلاب العلم او زده کوونکو سره ښه چلند وکړي او هغوی ته په نرمه ژبه، مهربانۍ او په ورین تندي زده کړه ورکړي او د هغوی پوښتنو ته ځواب ورکړي نو طُلاب العلم او زده کوونکی هېڅ کله هم ځان یواځې نه احساسوي او په داډه زړه خپلې ستونزې له خپلو ښوونکو سره شریکوي.
په ورځني ژوند کې نظم او د وخت پېژندنه او مدیریت هغه څه دي چې د ښوونیز کال په لومړیو ورځو کې ورته پاملرنه وشي.
هر هغه طالب العلم او زده کوونکی چې د مطالعې، دمې، ورزش او نورو فعالیتونو لپاره مهالوېش ولري نه یوازې به له ذهني فشار څخه خوندي وي، بلکې خپلې دندې به هم پر وخت ترسره کوي. همدارنګه د کارونو ځنډول، د کورنۍ دندې په وخت نه ترسره کول، د ورځنیو درسونو نه تکرارول او په بې ارزښته فعالیتونو د وخت ضایع کول هغه ناوړه عادتونه دي چې که د مدرسې او ښوونځي په پیل کې مهار نه شي د کال تر پایه به زده کوونکي د زده کړې په بهیر کې له ګڼو ستونزو سره مخ وي، څرنګه چې زده کړې د ځنځیر په څېر کړۍ په کړۍ له یو بل سره تړاو لري که چېرې دغه تسلسل سره وپاشل شي نو د زده کړې بهیر به ټکنۍ کړي چې زده کوونکي به بیا ونه شي کولای دغه د لاسه تللی ارزښتناک وخت جبران کړي.
په نننۍ نړۍ کې ټکنالوژي د زده کړې مهمه برخه ګرځېدلې ده که له ټکنالوژي څخه ناسمه ګټه واخیستل شي د طُلاب العلم او زده کوونکو تمرکز له منځه ځي، نو اړتیا ده چې ګران طُلاب العلم او زده کوونکي له موبایل او انټرنېټ څخه د زده کړې لپاره سالمه ګټه واخلي، نه دا چې خپل ارزښتناک وخت په بې ګټې بوختیاوو تېر کړي. استاذان هم کولای شي د ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستلو سره د زده کړې بهیر لا ډېر ساده، آسانه او په زړه پورې کړي.
بل مهم ټکی دا دی چې د زده کړې بهیر پرلپسې او دوامداره ارزونې ته اړتیا لري که طُلاب العلم او زده کوونکي خپل درسونه په منظم ډول تکرار کړي او استاذان وخت پر وخت آزموینې واخلي، نو د ضعیفو ټکو پېژندل او اصلاح کول به آسانه شي. دا بهیر نه یوازې د زده کړې کیفیت لوړوي بلکې طُلاب او زده کوونکي د راتلونکو آزموینو لپاره هم چمتو کوي.
په پای کې دا باید هېر نه کړو چې زده کړه یوازې په آزموینو کې د ښو نمرو د تر لاسه کولو لپاره نه بلکې د ژوند د مهارتونو د ترلاسه کولو یو اوږد بهیر دی. طُلاب او زده کوونکي باید په دې نیت زده کړه وکړي چې د خپل ملک د پرمختګ او د هېوادوالو د خدمت جوګه شي.

## تهداب‌گذاری تعمیر یک باب مکتب به حمایت مالی مردم در ولایت دایکندی

سنگ تهداب تعمیر جدید مکتب متوسطه «ده‌غوچی» در ولسوالی میرامور ولایت دایکندی به هزینه بیش از یک میلیون افغانی، از حمایت مالی باشنده گان محل طی مراسمی گذاشته شد.
به گفته مسئولان ریاست معارف ولایت دایکندی قرار است این مکتب باداشتن ۶ صنف درسی، ۲ اطاق اداری و سایر ملحقات ضروری آن ساخته شود.
مسئولان می افزایند که با ساخت این مکتب زمینه آموزش در فضای مناسب برای صدها تن از شاگردان محل فراهم میگردد.
قابل یادآوری است که در سال ۱۳۸۸ هـ.ش، برای این مکتب۳ جریب زمین به ارزش ۵۰۰ هزار افغانی از سوی محترمین هر یک خادم و محمدحسین باشندگان ولایت یادشده وقف شده بود. رهبری وزارت معارف از حمایت مردم از نظام تعلیمی ملک قدردانی می کند.

## د لغمان ولایت په ۳۰ بابه ښوونځیو کې د لمریزې برېښنا سیستم نصب او فعال شو

د لغمان ولایت د مهترلام ښار او څلورو ولسوالیو په ۳۰ بابه ښوونځیو کې د یو همکار بنسټ په مالي مرسته د ۶.۴ مېلیونه افغانیو په ارزښت د لمریزې برېښنا سیستمونه نصب او فعال شول، چې د پوهنې ریاست د مسئولینو په حضور کې د یوې غونډې په ترځ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي شاه‌جهان ساجد له همکار بنسټ څخه د مننې ترڅنګ وویل: چې د لمریزې برېښنا یادې شبکې هره یوه د ۱۰ کیلوواټه برېښنا د تولید وړتیا لري چې ددې ولایت په ۳۰ بابه ښوونځیو کې نصب او فعال شوي دي. د نوموړي په وینا، په یادو ښوونځیو کې ۴ بابه ښوونځي په مهترلام ښار کې، ۶ بابه ښوونځي په قرغه‌یي ولسوالۍ، ۶ بابه ښوونځي په الینګار، ۹ بابه ښوونځي په الیشنګ او ۵ بابه نور ښوونځي د لغمان ولایت په دولت‌شاه ولسوالۍ کې موقعیت لري.
د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم د قرغه‌یي ولسوالۍ په ګل‌پاچا الفت او مشه‌خېل لېسو کې د سیمې اوسېدونکو په مالي مرسته د لمریزې برېښنا شبکې نصب شوې وې، چې د پوهنې ریاست رهبرۍ د یادو اوسېدونکو له همکاریو څخه د ډالیو او ستاینلیکونو په ورکولو مننه وکړه.

## بازسازی دو باب مکتب در ولسوالی خاک جبار ولایت کابل

دو باب مکتب در ولسوالی خاک‌جبار ولایت کابل پس از تکمیل کار بازسازی آن طی مراسمی با حضور مسئولان ریاست معارف ولایت کابل به بهره‌برداری مجدد سپرده شد.
این پروژه شامل بازسازی مکتب متوسطه پته خزانه و مکتب ابتدائیه کروخیل میگردد که با حمایت مالی یک نهاد همکار به هزینهٔ مجموعی ۵۲۲ هزار و ۶۵۴ افغانی بازسازی شده است.
به گفته مسوولان ترمیم دیوار احاطه، دروازه های عمومی، و ایجاد شبکه آب آشامیدنی برای مکاتب یاد شده شامل ترمیم مکاتب یاد شده می باشد که با بازسازی آن زمینه آموزش در فضای مناسب آموزشی برای صدها تن از شاگردان این محل فراهم گردیده است.

## د غور ولایت د روږدو د درملنې په کمپ کې ۴ بابه د سواد زده کړې ټولګي فعال شول

د غور ولایت مرکز فیروزکوه ښار اړوند په نشه یي توکو د روږدو کسانو د درملنې په کمپ کې د سواد زده‌کړې ۴ بابه ټولګي جوړ او فعال شول.
د غور ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي دغه ټولګي د ۱۳۰ تنو په نشه یي توکو د روږدو کسانو لپاره د سواد زده‌کړې، پوهاوي لوړولو او بېرته سالم ژوند ته د ستنېدو په موخه رامنځته شوي دي.
مسئولین زیاتوي، ګډونوالو ته اړین درسي توکي هم وېشل شوي او ټولګي په لازمو درسي توکو سمبال شوي، څو د زده‌کړې بهیر په منظم او اغېزمن ډول پر مخ ولاړ شي.

## په ننګرهار ولایت کې د یو باب ښوونځي جوړېدو بنسټ ډبره کېښودل شوه

د ننګرهار ولایت مومندرې ولسوالۍ اړوند د منګل لومړني ښوونځي ودانۍ د جوړېدو د بنسټ ډبره د یوې غونډې په ترځ کې چې د ننګرهار ولایت د پوهنې رئیس محترم شیخ الحدیث محمد شریف حلیمي، د مومندرې ولسوال محترم استاد حمدالله خالد حیدر او یو زیات شمېر قومي مشرانو حضور درلود کېښودل شوه.
د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې یاده ودانۍ د یوه خیریه بنسټ په مالي مرسته د ۲.۵ مېلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي چې ۷ درسي ټولګي، ۲ اداري خونې، ۴ تشنابونه او د زده کوونکو لپاره به څوکۍ ولري چې په عصري او معیاري ډول به د ۳ میاشتو په موده کې جوړه شي د مسئولینو په خبره ددې ښوونځي په جوړېدو سره به د سیمې ۱۲۰۰ تنه زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپېریال چمتو شي.

### په ۳۹ بابه منځنیو کې د «رشته بندی»...

دپلې کېدو کړنلارې او په ۳۹ بابه منځنیو ښوونځیو کې د هغو د عملي کېدو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او ټینګار یې وکړ چې د دې طرحې عملي کېدل به د زده‌کوونکو د وړتیاوو، علاقې او تحصیلي رشتو ترمنځ لا ښه همغږي رامنځته کړي.

### اخذ امتحان تثبیت سویه تعلیمی از صدها تن مجاهدین و ...

اکنون با مساعد شدن فرصت های تعلیمی، بعد از سپری نمودن امتحان یاد شده می توانند به تعلیمات شان ادامه دهند.
آن ها افزودند؛ در نظر است داوطلبان این امتحان مطابق با سطح سویه تعلیمی شان در صنوف هفتم تا دوازدهم مکاتب جذب شوند.
همچنان ریاست معارف ولایت تخار از ۳۵۰ تن مهاجران برگشته به ملک امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ کرد. به گفته مسئولان معارف اشتراک کنندگان امتحان که به دلیل اخراج خانواده‌های شان از کشورهای همسایه و نقل‌مکان به ملک، از روند آموزش بازمانده بودند، بعد از سپری نمودن امتحان یاد شده می توانند به تعلیمات شان ادامه دهند. آن ها افزودند؛ در نظر است داوطلبان این روند، مطابق با سویه تعلیمی شان در صنوف مختلف مکاتب این ولایت جذب شوند.

### دیدار معین تعلیمات اسلامی با...

در ادامه، رئیس محترم عمومی عواید وزارت مالیه به مسئولان وزارت معارف اطمینان همکاری کامل داد و اظهار داشت که آنان آماده‌اند در بخش‌های مربوط به وزارت معارف از جمله در زمینه تجهیزات، مشکل کمبود استادان و یا سایر بخش‌های مرتبط، هر نوع همکاری لازم را انجام دهند.

### په کندهار ولایت کې د ٦ بابه ښوونځیو نوې ...

آزموېښتونونه، د اوبو رسولو سیستم، لمریزې برېښنا شبکې او نور اړین ملحقات لري.
د کندهار ولایت د پوهنې ریاست مسئولین زیاتوي چې د یادو ښوونځیو د ودانیو په جوړېدو سره زرګونو زده‌کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي ښوونیز چاپېریال برابر شو.

### افتتاح تعمیر جدید یک باب مدرسه دینی در...

ساخته شده است، از سوی مسئولان معارف ولسوالی یمگان افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.
به گفته مسوولان ریاست معارف بدخشان، این مدرسه به همکاری مالی و تأمین معاش سه تن استاد از سوی اهالی محل به منظور آموزش حدود ۲۰۰ تن شاگرد در دو نوبت درسی، روی قطعه زمین اهداء شده به مساحت ۶۵ متر طول و ۳۵ متر عرض احداث شده و هم یک قطعه زمین دیگر نیز به طول ۶۰ متر و عرض ۷ متر به منظور ساخت ۲۰ باب دوکان از سوی باشندگان محل اختصاص داده شده تا در آینده، مصارف و نیازمندی های مدرسه یاد شده از عواید آن تأمین شود.

# لنډ خبرونه

### کابل

از سوی وزارت معارف، در دارالمعلمین عالی سید جمال‌الدین افغان شهر کابل از حدود ۱۰۰ تن مجاهدین امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ گردید.
به گفته مسئولین، این امتحان از کسانی گرفته شده است که به دلیل مصروفیت‌های جهادی، آموزش‌های شان نیمه‌تمام باقی مانده بود، تا بتوانند آموزش‌های ناتمام خود را تکمیل نمایند.

### پکتیکا

ریاست معارف ولایت پکتیکا از ۱۰۳ تن اطفال مهاجرین برگشته به ملک، امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ کرد.
این امتحان که با حضور مسئولان ریاست معارف آن ولایت برگزار شد قرار است واجدین شرایط جهت ادامه دروس به صنف‌های مربوطه مکاتب رسمی معرفی شوند.

### غزنی

کار ساخت دیوار احاطوی مکتب نسوان شهدای آرزو در منطقۀ آرزوی مرکز ولایت غزنی، با حمایت مالی مردم محل آغاز گردید.
هزینۀ ساخت این دیواز نزدیک به یک میلیون افغانی تخمین شده است.
به گفتۀ مسئولین معارف در حال حاضر در این مکتب حدود ۲۵۰ تن شاگرد مصروف فراگیری آموزش می‌باشندکه با اعمار این دیوار احاطوی، امنیت و نظم محیط مکتب بیشتر بهبود خواهد یافت.

### کابل / پروان

د کابل او پروان ولایتونو پوهنې ریاستونو د ۱٤۰٤ ښوونیز کال په اوږدو کې ملک ته د راستنو شوو کډوالو ماشومانو څخه د تعلیمي سويې د تثبیت آزموینې اخیستې، چې ټولټال په کې ۳۳۰ تنو ګډون درلود.
یادې آزموینې د دواړو ولایتونو پوهنې مسئولینو په حضور کې ترسره شوې، چې په کابل ولایت کې ۸۵ تنو او په پروان ولایت کې ۲۵۰ تنو په دغو آزموینو کې ګډون درلود.

### میدان وردګ

د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د ښوونځیو اړوند د ښوونکو او داري چارو ۲۷ خالي بستونولپاره آزموینه د پوهنې ریاست د پلاوي په شتون کې واخیستل شوه.
د پوهنې رئیس محترم مولوي محمد عثمان حریت د آزموینې بهیر څخه د څارنې پرمهال د آزموینې ګډونوالو ته د روڼتیا ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې په دغه بهیر کې د ښوونکو مسلکي وړتیا او لوړو زده کړو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی.

### سرپل

کار ساخت تعمیر جدید مدرسه دینی فرقانیه، در ولسوالی البدر ولایت سرپل به هزینه اولیه ۵۰۰ هزار افغانی از حمایت مالی مردم محل با حضور مسئولین معارف آن ولسوالی آغاز شد.
به گفته مسئولین معارف آن ولسوالی، ساخت این مدرسه نیاز اساسی در این محل بوده و از باشندگان محلات دیگر نیز خواست تا در این اقدام نیک سهم فعال بگیرند.

### هرات

هیئتی به رهبری محترم الحاج مولوی بسم‌الله نعمانی رئیس احصائیه وزارت معارف، به‌منظور تائید و تصدیق ارقام و معلومات احصائیوی نهادهای تعلیمی ولایت هرات عازم آن ولایت شد. هیئت با محترم مولوی محمد رحمانی رئیس معارف ولایت هرات، دیدار نموده و اهداف سفر خود را با وی در میان گذاشت.
سپس رئیس معارف ولایت هرات بر همکاری همه‌جانبه و فراهم‌سازی تسهیلات لازم جهت اجرای مؤثر پلان‌های کاری آن ها اطمینان داد.

## هغه ماشومان چې سم درک شوي ندي، خو ستره وړتیا لري

په ټولګي کې د ځینو زده کوونکو هغه ځانګړنې لکه پیاوړی تجسس، ټوکې کول او بېلابېل فکر کول کمزورتیاوې نه دي بلکې د یو پیاوړي او انعطاف منونکي مغز نښې کېدای شي.
دا ماشومان عموماً ډېرې پوښتنې کوي، ډېر څه پلټي، او د دې پر ځای چې هر څه په پټو سترګو ومني، دودیزې لارې ماتوي. که څه هم دا چلند په منظم ټولګي کې ستونزې جوړولی شي، خو همدا ځانګړنې وروسته په ژوند کې د نوښت، اختراع، او لوړې بریا سره تړاو لري.
د ښوونځیو دودیز سیستمونه اکثره ارام، منظم، او د اصولو سخت تعقیب کوونکي زده‌کوونکي ستایي. دا کار هغه ماشومان چې په طبیعي ډول ډېر فعال او کنجکاو وي داسې احساس ورکوي لکه دوی چې مناسب نه وي. په وخت سره، د دوی ځانګړنې ناسمې تعبیرېږي او د ستونزې په توګه ورته ګوته نیول کېږي، د دې په ځای چې په سمه لار رهبري شي.
دا بدلون پېژندل ډېر مهم دی. کله چې موږ دې ځانګړنو ته د ستونزو پر ځای د وړتیا او ځیرکتیا په توګه وګورو، نو کولای شو ماشومانو ته داسې ملاتړ برابر کړو چې د دوی د فکر کولو له طرز سره برابر وي. موخه دا نه ده چې د دوی طبیعت وځپل شي، بلکې دا ده چې په اعتماد او موخې سره د هغوی استعداد ته وده ورکړل شي.

**پوهنیار آغاشیرین شهباز**

## ارزش علم

علم، چراغی است که تاریکی‌های جهل را روشن می‌کند و راه انسان را در میان پیچیده گی‌های زندگی هموار می‌سازد.
ارزش علم تنها در دانستن نیست، بلکه در توانایی دید عمیق‌تر، فهم بهتر، و انتخاب آگاهانه‌تر نهفته است. انسانی که به علم مجهز است، جهان را نه فقط آن‌گونه که هست، بلکه آن‌گونه که می‌تواند باشد نیز می بیند.
علم به انسان قدرت می‌دهد؛ نه قدرت سلطه، بلکه قدرت درک، رشد و تغییر. با علم، انسان می‌آموزد که پرسش کند جست‌وجو نماید و حقیقت را از میان ابهام‌ها بیرون بکشد. این مسیر، ذهن را زنده نگه می‌دارد و روح را از سکون و بی‌حرکتی نجات می‌دهد.
هیچ جامعه‌ای بدون علم به پیشرفت واقعی نمی‌رسد. آنچه ملت‌ها را از هم متمایز می‌سازد، نه صرفاً منابع طبیعی، بلکه میزان دانایی و آگاهی مردمان آن‌هاست. علم پایه‌ی تمدن‌ها را می‌سازد و آینده‌ها را شکل می‌دهد.
در عین حال، ارزش علم زمانی کامل می‌شود که با اخلاق همراه باشد. دانشی که در خدمت انسانیت قرار نگیرد، می‌تواند به جای سازندگی، ویرانگر باشد. پس علم نه‌تنها باید آموخته شود، بلکه باید درست به کار گرفته شود.
در نهایت، علم میراثی است که نسل‌ها را به هم پیوند می‌دهد؛ پلی میان گذشته، حال و آینده. هر دانشی که امروز به دست می‌آوریم، نوری است که راه فردا را روشن تر می کند.

**عبدالواسع سعادت**

## کینه مه کوه

ایا له خلکو سره د الله تعالی له لوري په ورکړل شویو نعمتونو کینه کوئ!؟
کینه هغه تېزابو ته ورته ده، چې هډوکي ورستوي، حسد او کینه هغه ناروغي ده، چې بدن تباه کوي. کینه ګر تل ناکراره وي، کینه ګر د مظلوم په جامه کې ظالم او د دوست په جامه کې دښمن وي.
کینه داسې څه ده، چې لومړی پخپله کینه ګر له منځه وړي، له دې امله مخکې تر دې چې نور خلک پر موږ رحم وکړي، موږ باید پر خپلو ځانونو رحم وکړو او له حسد او کینې څخه ځانونه وساتو.
کله چې له چا سره حسد کوو، نو خپل ځان ناکراره کوو، دغه ناکراري مو ذهن مخشوش کوي او خوب مو له سترګو تښتوي، حسد هغه تنور دی چې په خپله کینه ګر پکې غورځېږي او ناکراري، خفګان او اندېښنې هغه ناروغۍ دي، چې حسد یې رازېږوي.
حسد داسې ناروغي ده، چې هېڅ اجر نه لري، کینه ګر تر مرګه ځان په اور سوځوي یا تر هغه چې خلک د الله جل جلاله له ورکړل شویو نعمتونو محروم شوي نه وي، کینه ګر کولای شي چې له هر چا سره مینه ولري او د خوښۍ ژوند تېر کړي، خو کینه ګر په دې خوښېږي، چې ته د الله تعالی له لورول شویو نعمتونو بې برخې شې او هغه څه چې الله جل جلاله درکړي له منځه ولاړ شي.
د کینه ګر له کینې څخه الله تعالی ته پناه وروړم، کینه ګر هغه ښامار ته ورته دی، چې څو یې خپل زهر د انسان په بدن کې ورپرې ایښې نه وي، کرار نه مومي.
نو دا چې له کینې څخه ځان وساتئ، له الله تعالی نه کینه ګرو په اړه پناه وغواړئ، ځکه چې کینه ګر تاسې ته په کمین ناست دي.
لیکوال: دوکتور عائض بن عبدالله القرني

**ژباړن: رحمت الله مومن (مارزک)**

## د انسان د لوړوالي او عزت راز

امام ایوب السختیاني ویلي: انسان تر هغه بشپړ او باوقاره نه جوړیږي، تر څو چې په ده کې دوه خویونه نه وي را منځ ته شوي:
۱- د خلکو د مال او شتمنۍ څخه ځان ساتل او طمع نه کول.
۲- د خلکو تېروتنې ښنل او ورڅخه تېرېدل.
دا دواړه صفتونه انسان ته عزت او لوړوالی ورکوي.
(مکارم الأخلاق لابن أبي الدنیا ص ۲۸)

***

**د څلورو شیانو دعوه، پرته د څلورو دروغ ده:**
امام حاتم الأصم رحمه الله ویلي: چا چې د څلورو شیانو دعوه وکړه پرته له څلورو؛ نو د هغه دعوه دروغجنه ده:
۱- څوک چې د الله تعالی د محبت دعوه کوي، خو د حرامو څخه ځان نه ساتي؛ نو دا دعوه یې دروغ ده.
۲- څوک چې د رسول الله ﷺ د مینې دعوه کوي؛ خو د بېوزلو او مسکینانو څخه کرکه لري؛ نو دا دعوه یې دروغ ده.
۳- څوک چې د دوزخ څخه د وېرې خبرې کوي؛ خو د ګناهونو څخه ځان نه ساتي؛ نو دا دعوه یې دروغ ده.
٤- څوک چې د جنت د مینې دعوه کوي؛ خو د هغه لپاره عمل نه کوي؛ نو دا دعوه یې دروغ ده.
(نصائح العباد ص ۳۰).

**مفتي حکیم الله صابر**

## د زړه سکون؛ د باور او حاضر ژوند فلسفه

انسان تل د اندېښنو او فکرونو ترمنځ ژوند کوي؛ کله د تېر وخت په یادونو کې بند پاتې وي او کله په دنیایي چارو کې له خپل راتلونکي برخلیک څخه وېرېږي. خو هوښیار انسان هغه دی چې د ژوند توازن زده کړي او خپل زړه د بې ځایه غمونو څخه خلاص کړي.
له یو عالم څخه وپوښتل شول: ولې نه خپه کېږې او ولې دې طبیعت نه خرابېږي؟ هغه په لنډو خو ژورو ټکو کې ځواب ورکړ: "زه په هغه څه زړه نه تړم چې فاني او له منځه تلونکي دي."
دا خبره موږ ته دا درس راکوي چې د دنیا ډېر شیان موقتي دي. مال، مقام او حتی ستونزې ټولې تېرېدونکې دي. نو ولې انسان خپل زړه له داسې شیانو سره وتړي چې پای لري؟
هغه عالم د وخت درې برخې داسې تعریف کړې:
**۱- سبا:** یو راز دی، نو بې ځایه اندېښنه مه ورته کوه.
**۲- پرون:** یواځې یوه خاطره ده، نو ځان مه پرې ځوروه.
**۳- نن:** یوه ډالۍ ده، نو قدر یې وکړه او له هرې شېبې یې خوند واخله.
په حقیقت کې، انسان چې کله یوازې په "اوس" تمرکز وکړي، د ژوند خوند زیات احساسوي. د تېر پښېماني او د راتلونکي وېره دواړه د انسان احساس کموي.
همدارنګه، د ژوند ستونزې او فشارونه باید د وېرې سبب ونه ګرځي. ډېر وخت همدا فشارونه انسان پیاوړی کوي. لکه څنګه چې د ډېرو سکرو تیره د سخت فشار په نتیجه کې په الماس بدلېږي، همداسې انسان هم د آزمایښتونو له امله وده کوي او ځلیږي. د راتلونکي په اړه زیات فکر کول هم د کمزوري باور نښه ده. خدای جل جلاله مو چې څرنګه پرون او نن چارې سمبال کړې دي، د سبا مالک هم الله جل جلاله دی. انسان چې په خپل رب باور ولري، زړه یې آرام وي او فکر یې روښانه
موږ انسانان لا د بنده ګۍ په لومړیو ګامونو کې یو خو الله تعالی له ازله تر ابده د کایناتو رب دی. نو ولې موږ د خپل سبا په اړه اندېښنه وکړو، حال دا چې هغه پر هر څه قادر دی؟
**پایله:**
**د ژوند سکون په دې کې دی چې انسان:**
ـ په فاني شیانو زړه ونه تړي.
ـ د ستونزو په حل کې له تدبیر کار واخلي.
ـ تل پر الله جل جلاله توکل او باور وکړي.
ـ د نن ورځې هره شېبه په هوښیارۍ سره تېره کړي.
همدا فلسفه انسان له دنني اضطراب څخه خلاصوي او هغه ته ریښتینی آرام وربخښي.

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** شيخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»

**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»

**صفحه آرا :** محمد قسيم «يعقوبي»
**شمېر :** ۳۰۰۰
**پته:** کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**د پوهنې کاروان مينه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې ليکنې، وړانديزونه او نيوکې په لاندې برېښنا ليک او تليفون شمېرې له موږ سره شريکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 323 /2026


# د ښوونې او روزنې معين د استقلال عالي لېسې څخه ليدنه وکړه



د ښوونيز کال له پيل سره سم د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معينيت د ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو د اداري او تدريسي چارو د سمون لارښوونو او لاښه‌والي په موخه د څارنې لړۍ پيل کړه.
د ارزونې په دې بهير کې د ښوونې او روزنې معين محترم شيخ مولوي عبدالمالک حقاني د يو پلاوي په ملتيا د کابل ښار دويمې ښوونيزې حوزې اړوند د استقلال له عالي لېسې څخه ليدنه وکړه. ددې ليدنې په ترڅ کې د يادې لېسې له اداري مسئولينو سره د کتنې سربېره اداري چارې هم و ارزول شوې.
د ښوونې او روزنې محترم معين او ورسره پلاوي په يو شمېر ټولګيو کې د زده کوونکو د استعدادونو ارزونه وکړه همدارنګه يې د تدريسي کيفيت، د درسي نصاب پلي کول، د ښوونکو د تدريسي ميتودونو څرنګوالی، د ښوونځي د چاپېريال، نظم، حاضرۍ او اداري همغږۍ وضعيت هم وڅېړه.
د ليدنې په پای کې د ښوونې او روزنې محترم معين د ښوونکو، زده‌کوونکو او اداري مسئولينو سره خبرې وکړې او د هغوی د ستونزو د حل، د تدريسي کيفيت لوړوالي او د ښوونيز بهير لا پياوړتيا لپاره يې هغوی ته لازمې لارښوونې وکړې.
نوموړي ټينګار وکړ چې د ښوونيز نظام د پياوړتيا لپاره د ښوونيز بهير څارنه مهمه ده او بايد په دوامداره توګه د مسئولينو له لوري ترسره شي، ترڅو د ښوونې او روزنې کيفيت لوړ او ستونزې په ګوته او حل شي.
د يادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معينيت له لوري د ښوونځيو د څارنې او ارزونې دغه لړۍ به د هېواد په بېلابېلو ولايتونو او د کابل ښار په ښوونځيو کې په منظم ډول دوام ومومي.

## ارزيابی سطح تعليمی حدود يک هزار طفل مهاجر برگشته در ولايت هرات

رياست معارف ولايت هرات، از حدود يک هزار تن فرزندان مهاجرين که به تازه گی به افغانستان برگشته اند، امتحان تثبيت سويه تعليمی اخذ کرد.
محترم مولوی محمد رحمانی رئيس معارف ولايت هرات حين نظارت از روند برگزاری اين امتحان گفت: اين روند به‌منظور تثبيت سويه تعليمی شاگردان مهاجر برگشته به ملک و فراهم‌سازی ادامه تعليم و تربيه برای آنان راه‌اندازی شده است. وی افزود که اين امتحان برای متقاضيانی صنوف هفتم الی يازدهم برگزار شد.

## په لوګر ولايت کې د ۳۹ بابه ښوونځيو سره د دفتري او تدريسي وسايلو مرسته وشوه




د لوګر ولايت له پوهنې رياست سره د يوې همکارې ادارې له لوري په ياد ولايت کې د ۳۹ بابه بيارغول شويو ښوونځيو لپاره د شاوخوا يو ميليون او ۸۰۰ زره افغانيو په ارزښت د دفتري او تدريسي وسايلو مرسته وشوه،
د لوګر ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو په وينا په دې مرستو کې ۹ قلمه د دفتر او تدريس په برخه کې اړين وسايل شامل دي، چې ډېر ژر به په نويو رغول شويو ښوونځيو ووېشل شي، د دوی په خبره ياد وسايل به د تدريسي او زده کړې په بهير کې مثبت او مهم اغېز ولري.

## په ميدان‌وردګ، پکتيا او لغمان کې د راستانه شوو کډوالو ماشومانو څخه د سويې تثبيت آزموينه واخيستل شوه

د ميدان‌وردګ، پکتيا او لغمان ولايتونو پوهنې رياستونو، د راستانه شويو کډوالو ماشومانو د تعليمي کچې د تثبيت آزموينې ترسره کړې چې پکې د ټولټال ۲۱۷ تنو ماشومانو تعليمي سويه وارزول شوه.
په يادو آزموينو کې چې د يادو ولايتونو د پوهنې رياست مسئولينو له خوا ترسره شوې په پکتيا ولايت کې ۱۰۵ تنه، په ميدان‌وردګ ولايت کې ۲۲ تنه ماشومانو او په لغمان ولايت کې ۹۰ تنو ګډون درلود.
د پوهنې مسئولينو په وينا، تاکل شوې چې ياد زده‌کوونکي به د هغوی د تعليمي سويې سره سم د خپلو زده‌کړو د دوام لپاره په يادو ولايتونو کې د ښوونځيو بېلابېلو ټولګيو ته ور وپېژندل شي.

## بازسازی شماری از مکاتب در ولسوالی سروبی ولايت کابل

مسئولان در رياست معارف ولايت کابل ميگويند که ليسه سروبی، متوسطه مرکزی سروبی، ابتدائيه های نمبر يک و شونده در ولسوالی سروبی ولايت کابل، به هزينه ۲ ميليون و ۲۳۵ هزار و ۷۴۰ افغانی ترميم شده و به بهره‌برداری مجدد سپرده شدند.
بازسازی ياد شده شامل؛ ترميم پوشش آهنی و کانکريت بام‌ها، ساخت و نصب دروازه‌های صنوف بلند بردن ديوارهای احاطه، رنګ دروازه و کلکين‌ها همراه با شيشه های آن می باشند.


دافغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت
د ښوونې او روزنې معينيت
د سواد زده‌کړې رياست

موږ د افغانستان خلکو ته ډاډ ورکوو، چې د دوی د بچيانو د ديني او عصري علومو د معياري زده کړې او سالمې روزنې په برخه کې او همدارنګه زموږ په ګران ملک افغانستان کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره به هېڅ ډول هڅې ونه سپموو.

الحاج مولوي حبيب الله آغا
د پوهنې وزير

د نشراتو او عامه اړيکو رياست


**د سواد زده کړه لږ او يا ډېر عمر نه غواړي، د سواد زده کړې مرکزونو دروازې ستاسو پرمخ خلاصې دي ترڅو له دې لارې وکولای شی د علم ستر نعمت ترلاسه کړئ.**